# The Impacts Of Sour Revolution On The Ghazal Of Rehmat Shah Sail

# د رحمت شاه سائل په غزل د ثور انقلاب اثرات


- **Muhammad Ali, M.Phil Scholar, BKUC**
- **Dr. Shafiullah, Assistant Professor, BKUC**



## Abstract:

Rehmat Shah Sail is a prominent poet of Pashto Poetry. His Ghazal is a powerful Voice of resistance against the imperialistic powers of the world for the war imposed on Pashtun's land. He has termed the war on Pashtun's land as the war of others and considered Pashtuns as merely the wood of its fire. In his poetry he has clearly depicted that the war on the land of Pashtuns was between communist and capitalist powers of the world.

Rehmat Shah Sail has clearly mentioned that Sour revolution brought a lot of miseries to this land of Pashtuns. It changed the social structure of Pashtuns' culture and civilization. It brought only destruction to the land of Pashtuns. Ranging from migration to the long lasting four decades war completely destroyed the social values and norms of the peaceful region of Pashtuns' on either sides of Durand line. It brought a lot of killings, widows and orphans to the land and the world's powers deceived Pashtuns on various names of war. He has also criticized the various shifts in the war imposed on the land of Pashtuns as foreign agendas. His poetic voice is so powerful that his poems and Ghazal are widely referred as quotations. Rehmat Shah Sail followed the various shifts of wars between Russia, USA, NATO and local war lords. He has thrown light on the characters of war lords and termed them as disloyal to the land. He termed this war as knowing no end due to interference of the world powers.

In this paper you will study the Sour revolution and its impacts on the Ghazal of Rehmat Shah Sail. Rehmat Shah Sail's Ghazal described the evils brought by Sour revolution.


**Key Word**: Sour Revolution, Imperialistic Powers, Communism, Capitalism, Pashtuns' Nationalism, war lord.

د انساني ژوند تاريخ تر مخه ژوند په بېلا بېلو پړاونو کښې ارتقاء کړې ده۔ دغه ارتقائي سفر د بېلا بېلو کړلېچونو او کړمو نه ډک دے۔ انسان د شخصي ژوند نه تر اجتماعي ژوند پورې بېلا بېلې مرحلې ل ېږلي دي۔ انسان په دغه ټول ارتقائي سفر کښې مختلف حالات ، واقعات او حادثات لېږلي دي۔ د انساني ژوند د ابتداء نه تر دې دمه پورې سفر پخپله باندې يو انقلاب او بدلون دے۔ د انساني سماج په بېلا بېلو موقعو او وختونو کښې د ځان او جهان دپاره هر وخت په دې حالاتو او مشکلاتو سره مشت و ګرېوان پاتې شوے دے۔ پښتانۀ په هر صورت کښې د ټو لنې او سماج نه په يو حالت بېل نه دي۔ څنګه چې په نوره دنيا سياسي او سماجي بدلونونه او انق لابونه راغلي دي ، دغسې د پښتنو په ټولنه سماج کښې هم سياسي، ادبي او سماجي انقلابونه راغلي دي چې پښتنه ټولنه ئې يو بل پړاؤ سره مخ کړې ده۔ په دې صورت پښتون وطن ته د ثور انقلاب په راتګ باندې د خپل بحث اغاز کوم۔ ښائي زۀ اول د انقلاب پېژندګلو اوکړم انقلاب څۀ وي او څۀ معنې او مفهوم لري ؟

انسائيکلوپېډيا برتانيکا کښې د انقلاب تعريف په دا ډول شوے دے۔

“Revolution is social and political science a major, sudden and hence typically violent attention in government and in related associations and structures[1]”

"انقلاب په ټولنيز علم او سياسياتو کښې هغه لوے بدلون دے چې په يو سرکار کښې او دې سره تړلي عواملو او ساخت کښې په شدت سره واقع شي"

يا داچې!

"The definition of a revolution is the movement of one object around a center or another object, a forceful overthrow of a government by the people or any sudden or grand change." [2]

---

1 Encyclopedia Britanica,15th Edition, Vol: 10, Page 9

2 https://www.yourdictionary.com/revolution, accessed on January 5, 2020.

"د انقلاب تعریف د يو ځيز د مرکز نه يا د بل ځيز نه ګېر چاپېر حرکت ته وائي يا د اولس
د خوا د سرکار نړول يا بل کوم بدلون يا لوے بدلون ته وئيلے شي۔"

انقلاب يو ښرائسته او زړۀ پوري تورے دے چې په اوربدو ئې د انسانانو پۀ ذهن کښې ښکلي سوچونه او لوړې طمعې راځي ـ چې په يوه ټولنه کښې د مودو مودو نه د ظلم او وحشت نظام خور وي پۀ هغه ټولنه کښې اولس د ډېرو کشالو سره مخ وي۔ د ډېر تاؤ تريخوالي له کبله د لاندې طبقې اولس پۀ دې مجبور شي چې دغه خراب نظام نسکور کړي او په ځائے ئې ءِ ادلاه نظام قائم کړي، انقلاب بللے شي۔

د ۱۹۷۸ء په کال د اپرېل په مې اشت کښې دافغانستان وروستے باچا سردار محمد داؤد خان د خپلې ټولې کورنۍ سره اووژلے شو چې په نتيجه کښې د "خلق ډيموکريټک ګوند" په هڅو اد کښې سياسي قدرت اونيو ۀ۔ نور محمد تره کي د افغانستان ړومبے جمهور رئيس اوټاکل شو چې دا انقلاب په تاريخ کښې د ثور انقلاب په نامه ياد شو ـ ثور د عربۍ ژبې ټکے دے چې پښتو کښې ورته د غويي مياشت هم وائي۔

په هم هغه ورځ ماښام اووۀ بجې د افغانستان د ريډيو نه د انقلاب اعلان اوشو او افغان ملت ته په ډاګه شوه چې افغانستان کښې د شاهي کورنۍ حکومت پايې ته اورسېدو چې اوس قدرت د افغانستان د اولس په لاس کښې دے۔ نورمحمد تره کي د انقلابي شورٰي رائيس صدراعظم مقرر شو خو د راتلو سره ئې د مذهبي تنظيمونو او انقلاب د مخالفينو مزاحمت نور هم زيات شو "د جون په ړومبۍ هفته کښې مزاحمتيانو په وړو وړو ګروپونو کښې د ملک په خواؤشا علاقو کښې د پوليس او فوج په چوکو حملې شروع کړې بدخشان، باميان، کونړ، پکتيا او ننګرهار په صوبو کښې د دې ګروپونو په حملو کښې نور هم زياتوالے راغلو[3]۔"

د انقلاب د راتګ سره په ټوله نړۍ کښې حالات بدل شول او هر خوا د بدلون نخښې ښکاره شوې چې سرمايه دار قوتونه هم حق حېران پاتې شول۔ غلام محمد زر ملوال ليکي

[3] Pasha, Ahmad Shuja, Afghanist Aik Qum Ka Almia, Sang-E- Meal Publications, Lahore, 1989,Page, 23

چې" د ثور انقلاب ناڅاپه منځ ته راغے او راتګ ئې نۀ یواځې په خپله افغانان بلکې بهرني نړیوال هم چې په سیمه کښې ئې د پېښو د بهیر څارنه کوله حق حېران پاتې شو[4]۔"

په افغانستان کښې هېڅ داسې حالات نۀ وو لکه د نړۍ د نورو ملکونو د انقلاباتو دپاره چې برابر وو۔ د افغانستان اولس او ټولنه کله هم دې ته اماده نۀ وه چې یو داسې اشتراکي نظام دې خپل کړي چې هغه د دوئ د مذهب ، ثقافت او پښتني اقدارو سره په تضاد کښې وي ولې چې په افغانستان کښې علمي او سیاسي شعور هم دومره پراخه نۀ وو چې هغه دې د بادشاهي نظام د ورلو سره د جمهوریت نظام رامنځ ته کړي او ځینې نور داسې عوامل وو چې ثور انقلاب نه لرل ځکه دا یو بې وخته او غیر فطري انقلاب وو چې د پښتنو نفسیاتو،مذهبي اقدارو، قومي روایاتو او ثقافتي دورونو سره ئې ورته والے نۀ لرلو. د "خلق" ګوند د مرکزي کمیټۍ غړے حفیظ الله امین د ثور انقلاب په باب له لیکي!

"د ثور انقلاب داسې نه چې د افغانستان د خلکو د انقلابي نهضت د کارګري ګوند د رهبرۍ کولو په واسطه بریالے شوے بلکښې داسې کارګري دے چې خپله د کارګري ګوند یعنې د افغانستان د خلکو دموکریټک ګوند په په واسطه سر ته رسېدلے چې د خلقو ملاتړ ئې د ځان سره درلود۔"[5]

په ټولنه کښې چې کله هم انقلاب راځي نو د هغې د پاره د هغې ټولنې دانشوران ، پوهان، ادیبان او شاعران، تعلیم یافته نجونې او ځوانان ډېر لوړ رول لوبوي او اولس دې ته اماده کړي چې هغوئي هم د بدلون راوستو د پاره د دوي تر سنګ شریک شي خو د ټولنیز ژوند په بدلون کښې چ ې ښۀ کردار ادا کوي هغه ادب دے خارجي پېښې په کوم ډول رانغاړي یا له دغه پېښو نه فنکار په کوم ډول متاثره کېږي۔ څرګنده ده چې رحمت شاه سائل د برصغیر تقسیم په وخت کښې سترګې پرانستې دي۔ د هغه په شعور او لاشعور کښې د ماشوموالي هغه ستونزې ټولې خوندي دي کومې چې د تقسیم نه پس په دې سیمې راغلې وې او بیا سائل چې زلمے کېږي نو هغه دا نه چې د خدائي خدمتګار تسلسل او په دغه

---

[4] Zarmalwal, Ghulam Muhammad, Afghana Tar Rusti Afghanistan, Danish Khparwandoya Tolana Pekhawar, 2014 Page 5

[5] Ameen, Hafeez Ullah, Inqelabi Lar, Ghaznawi Khparandoya Tolana Teckhniki Sanga Jinnah Road Quetta, Augst 1389, P 103

تسلسل د امریت راخور نظام ئې لېدو بلکښې د دغه نظام سره سائل يو خوا شاعر کېدو نو بل خوا چې د لر او بر پښتنو په قسمت چې کوم جنګ راتپلے کېدو ، سائل د هغې انقلاب نه رنګ واخېستو. دغه رنګ ئې سندره هم کړه او سانده هم. رحمت شاه سائل جديد پښتو ادب کښې هغه پياوړے او تکړه قوم پرست انقلابي شاعر دے چې د هغه په شاعرۍ کښې د پښتون وطن او انساني ټولنې تشکيل د انسان او انسانيت احترام او مبارزه ډېره څرګنده ښکلوي. د سائل په شخصيت کښې مترقي او مزاحمتي قوتونه د هغه وخت نه موجود وو د کله نه ئې چې باچا خان سره د خپل سفر اغاز کړے وۀ او په قامي تحر يک کښې ئې خپله ونډه شريکه کړه د خپلې شاعرۍ په ذريعه ئې خپل فکر د لر او بر پښتون اولس تر غوږو اورسوۀ. په پښتنه خاوره چې کوم حالا ت راغلي دي او پښتون افغان د ژوند کومو کړمو او سختو سره مخ شوے دے هغه ټول هر ځۀ ئې تر نظر ساتلي دي.

خپلو افکارو کښې ئې د وطن او ملت ډېر قوي احساس پښتون قوم ته ورانديې کړے دے. د رحمت شاه سائل د شاعرۍ ټولې مجموعې چې په غور سره مطالعه کړے شي نو دا ترې څرګنديږي چې د هغه په شاعرۍ کښې قومي او ملي درد او خپلې خاورې سره د مينې او محبت اظهار ډېر په فراخه توګه لېدے شي. سائل خپل شاعرانه تخليق کښې د دغه سوالونو او تقاضو ځايولو ځاے لري. قومي او ملي موضوعات د هغه په شاعر ۍ کښې په کثرت سره چېړلي شوي دي او هغه ئې په ځان فرض هم ګڼي.

که ځۀ هم د هغۀ د شاعرۍ موضوعات فراخه او هر اړخيز دي خو د ژوند وړو وړو سماجي مسئلو په نسبت هغه د قوم د درد او غ م قيصې ډېرې په شدت سره بيان کړې دي. هم دغه وجه ده چې شاعري ئې په اولس کښې زياته مقبوله او شهرت ورته حاصل دے.

هميش خليل ليکي!

> "سائل که يو خوا خپلې شاعرۍ کښې د پرېوتې انساني طبقې د ژوند د ناقرارو شپو ورځو په تصوير کشۍ د تاثراتو يو يادګار تخليق کړے دے نو بل خوا ئې د خپلې ملي شاعرۍ په ذريعه ملت کښې د قام ولۍ احساس هم راپارولے دے ځکه نو د سائل شاعري د خپل لب و لهجې دښائست او خپل تاريخ ي او فکري قوت په ذريعه د خپل وخت د افکارو او احساساتو بېدارولو يو عملي کوشش کړے دے."[6]

[6]Khalil, Hamish, Pukhtana Likwal, (Daryam Tok), Amir Print And Publishers Peshawar, December 2014,P 58, 59

رحمت شاه سائل د شلمې صدۍ د نور ه معصرو شاعرانو په شان په جدید غزل کښې خپله برخه حق ادا کړو او د فن هغه تقاضې ئې پوره کړي کومې چې د وخت ضرورت وۀ. د رحمت شاه سائل په غزل کښې مونږ د هغو شخړو حل وینو کومو چې د پښتون په خاوره د جنګ د لاسه د افغان اولس سماجي ، مع اشرتي ، سیاسي او ثقافتي اقدار د زوال ښکار دي. کله چې هم په تاریخ کښې داسې تور او ویرونکي حالات راغلي دي نو د دې په ختمولو کښې ادب یو لوے کردار ادا کړے دے. په خلقو کښې د مینې او خلوص جذبې راښېدا رول او اولس د ګېر چاپېره د خطرو نه خبرول او هغو ئې ته د حوصلې دولت وربخښل د شاعر بنیادي ذمه داري ده. سائل د پښتو ژبې وېښ شاعر دے هغه په خپله خاوره لګه د لیونو مئین دے ځکه خووائي !

اے مصوره که حاجت دې وي غمجن رنګونه
راشه تصوي ر زما د پولو او پټو واخله [7]

د انقلاب نه پس په کال ۱۹۷۹ کښې روس د امو دریاب نه راپورې وتو نو امریکې هم خپله لوبه ډېره په تېزۍ سره په مخکښې بوتله. امریکې اسلامي ملکونو تـه خبر ورکړو چې د کافر روس د لاسه اسلام ته خطره پېښه ده. د جهاد په نوم د اسلامي ملکونو نه جهادیان راپاڅېدل چې امریکې ورته په ډېره غټه پېمانه خپله وسله او ډالرې ورکړې او خپل دشمن روس ته ئې د افغانستان په خاوره مخامخ کړل. افغانان پکښې د مرګونو او ژوبلو سره مخ شول. ښکلې ښکلي او لرغوني ښارونه ئې په کهنډرونو بدل شول. د ح یا ، عزت، ننګ او ناموس پکښې څۀ قدر پاتې نۀ شو. سکـولونه، مکتبونه ئې وران ویجاړ شو. د بې ګناه پښتنو وړو او بوډاګانو، ځوانانو او د مېرمنو لاشونو نه د افغانستان مقبرې ډکې شوې. سائل په خپل غزل کښې دې ارخ ته داسې اشاره کوي.

[7] Sail, Rehmat Shah, Da Weno Rang Pa Lambo Sanga Khkari, Jadoon Printing Press Pekhawar, January1992, P 86

جنګ په پردي مسلک پردی نظريه نۀ دے پ کار
سرے به څه نر او بهادر شي چې سنګر پردے وي[8]

هغه د مينې محبت، اخلاص او امن د پاکو جذبو علمبردار دے۔د نړۍ د نورو سترو فلسفيانو په شان سائل هم د نفرتونو تعصب او د جنګ د ختمولو خواهش لري۔هغه چې د نن دور د جنګ زپلي پښتون اولس مخ ته ګوري نو د غزل فکر ئې نور هم تلند شي او چې د اسمان په شفق د بارودو لوګي خوارۀ وارۀ ويني نو زړۀ ئې پيکه پيکه شي۔

رحمت شاه سائل د پښتون وطن بربادی ذمه وار طاقتونه پيژني او په خپلو غزلونو کښې په هغو سخت ټکونه کوي۔هغه د پښتون وطن بربادی ذمه وار د سرمايه دارانه نظام او کمیونستي نظام طاقتونه ګڼي مګر د دې نظامونو جنګونو په نتيجه کښې پښتون اولس برباد شو۔هغه په ښکاره وائي چې دا جنګ د پښتنو جنګ نه دے بلکښې په پښتون وطن جنګ جوړ کړے شوے دے۔

څۀ په کافرو قاتلانو يو نصيب سپارلي
اوشوې مودې زمونږ د کلي نه ماتم نۀ اوځي[9]

د پښتنو کوڅې چې د نفرت نه ډکې ويني نو زړۀ ئې اودردېږي او په هغه وخت پسې بېرته ارمان کوي چې د جنګ نه مخکښې په دې سيمه کښې امن ،مينه او محبت وۀ۔

د پښتونخوا کوڅې خو داسې بې ايمانه نه وې
داسې بې خونده نۀ وې داسې بې جانانه نۀ وې[10]

په بل شعر کښې داسې وائي!

---

[8] Sail, Rehmat Shah, Ya Zra Gory Dalta Ba Gul Na Spary, Danish Khparwandoya Tolana Pekhawar, 2013, P20
[9] Sail, Rehmat Shah, Ta Ba Pa Khpal Tasweer Ky Sok Zayawi, Danish Khparandoya Tolana Pekhawar, 2005, P 105
[10] Sail, Rehmat Shah, Halat Che Oar Orawi, Danish Khparandoya Tolana Qissa Khwani Pekhawar, 2000, P 151

دي جنګ سره د امریکې نه په ډېره غټه پېمانه وسله او په خاصه توګه داسې ټوپکې راغلې چې د هر چا لاسو ته ورسېدې کور کور کښې ټوپکې خورې شوې دي. جنګ سره د ټوپک کلچر عام شو چې پښتنې ټولنې ته ئې ډېر زیان اورسولو. ځکه خو سائل په خپله شپږمه شعري مجموعه ''دړد چې د ځریکو ځانګې اوسپړلې'' کښې په یو غزل کښې د ټوپک نه کرکه کړې ده او داسې وائي!

کونډې دي کړې ډېرې ملالۍ په تورو څڼو
خوښدي دي کړې ډېرې بې اسرې ټوپکه مات شې
ورور دي د خپل ورور دلاس ه قتل کړو بې ځایه
تېتې دي کړې څه هسکې شملې ټوپکه مات شې
ما نه دي سپرلي تر عمره عمره مرور کړۀ
ماله دي تالا کړې ګلدرې ټوپکه مات شې
ماله دي چینارونه په کهنډرو کښې بدل کړل
تېتې دي کړې جګې منارې ټوپکه مات شې[11]

د سائل غزل د هر زخمي د زړۀ اواز دے. د سائل غزل د امن نغمه ده. د سائل غزل د هر بې وسه انسان ملګرے دے. د سائل غزل د هر پښتون پېژندګلو ده. د سائل غزل دهر جابر په مخکښې د صداقت اواز دے. د سائل غزل د خپل اولس ترجمان دے. کله چې هم د پښتنو په سیمه داسې حالات راغلي دي نو سائل په غزل کښې ځاے کړي دي. سعد الله جان برق د سائل د غزل په اړه لیکي!

''ددۀ د غزل په څهره چې کومه نوې سرخي مونږ ته ښکاري دا د هغه وینو ده کومه
چې حالاتو په ټکولو ټکولو ددۀ د زړۀ نه را روانه کړې ده[12].''

د رباني پۀ دوره کښې د کابل لرغونے ښار پۀ کهنډر بدل شو. تاریخي ویاړنې لوټ شوې. زاړۀ چې څومره هم اثار وو ، هغه یا غلا کړے شول یا طالبانو په لمبو کښې واچول تر دې چې د وطن غرونه هم لوټ او تالان شو. دغه شان په کوزه پښتونخوا کښې په بحراني

[11]Sail, Rehmat Shah, Dard Che Da Sriko Sangy Osparaly, Wahdat Printers Pekhawar, 1996, P 146
[12] Barq, SaadUllah Jan (Seriza), Da Lambo Pa Sori, Rehmat Shah Sail, Danish Kitabtun Pekhawar, March 2002, P 7

حالاتو کښې د سوات لرغوني اثار د دې ځای نه لرې يوړې شول او د پښتنو سيمو نه اولس په کډه مجبور شول.

وطنه ستا د وجود کوم اندام باقي پاتې دے
ځوک دې د سين سودا کوي ځوک دې د غر سودا[13]

د دې غزل په بل شعر کښې سائل د پښتون تهذيب په ورانولو او ختمولو هم زړۀ دردېدلے دے. د جغرافيائي ،ټولنيز جوړښت ، سياسي ،مذهبي او اقتصادي لوستې او علم دويم نوم تهذيب ،تمدن ،کلتور،ثقافت يا استوګنه بللے او ګڼلے شي. د اجتماعي ژوند کړه کتنه او معيارونه ټاکل هم تمدن ګڼلے شي. رحمت شاه سائل وائي چې د پردو جنګ له کبله د پښتنو ټولنه، کلتور او تهذيب برباد شو. د دوئي تهذيبي اثاثې تالا ترغا شوې.

د پښتني تهذيب په هره استانه بولي ده
څۀ د ماڼۍ څۀ د ميوزيم څۀ د کهنډر سودا[14]

په خپل نظم نما غزل کښې د نړۍ د امن دعوېدارو ته ډېر په بې باکۍ سره وائي چې د جنګ دا ورځې شپې د قيامت نه کمې نۀ دي. چا چې په مونږ دا قيامت جوړ کړے دے او پښتون وطن ئې لوټې لوټې کړو، د ډېورنډ کرښې نه دواړو غاړو ته پښتون په دې اور کښې سوزي چې دې اړخ ته نېغ په نېغه اشاره کوي. که يو طرف ته دکابل ښرائست د اور په لمبو کښې بدرنګ شو نۀ بل اړخ ته پېښور ښار کښې هم لمبې بلې وې خو سائل خپلې خاورې سره دومره مينه لري چې په دواړو ښارونو او اولس ئې زړۀ دردېږي.

په خپل وطن کښې جنګ راپسر دے
هلته هم زۀ مرم دلته هم زۀ مرم
پردے غوبل دے پردے اشر دے
هلته هم زۀ مرم دلته هم زۀ مرم

[13] Sail, Rehmat Shah, Halat Che Oar Orawi, Danish Kitabtun Qissa Khwani Pekhawar, (Dwaim Chap) September, 2000, P 75
[14] Homdagha asar, p 75

زما ګرېوان ئې ريبنې ريبنې کړو
زما وجود ئې اندام اندام کړو
هلته هم زۀ مرم دلته هم زۀ مرم
کوڅه کوڅه مې د زړۀ په وينو
روزانه لامبي زۀ ورته ګورم
ما په ما وژني کافر هنر دے
هلته هم زۀ مرم دلته هم زۀ مرم
يو شان پښتون دے يو شان وجود دے
که کابلے دے که پېښور ے دے
يو مې زړګے دے بل مې ځيګر
هلته هم زۀ مرم دلته هم زۀ مرم
هلته که مړ شم دلته به پړ شم
دلته که پړ شم هلته به مړ شم
هغه مې روح دے دا مې نظر دے
هلته هم زۀ مرم دلته هم زۀ مرم
ملالې څۀ شوې ټپه کړه پورته
پښتون دې نن په سندره پوئې کړه
چې ستا په شور کښې هم يو اثر دے
هلته هم زۀ مرم دلته هم زۀ مرم
اے نړيوالو اے امن دوستو
د جنګ پرستو مټ د نيوو دے
په ما قيامت دے په ما محشر دے
هلته هم زۀ مرم دلته هم زۀ مرم[15]

د يو باشعوره شاعر په حېث رحمت شاه سائل د ژوند په هر اړخ ژور نظر ساتلے دے او په نړيوال سياست ئې هم خپل نظر برقرار ساتلے دے۔ د انساني ژوند په ترقئ او په دې منطقه کښې د امن د راتګ ئې د هر اړخ نه خبره کړې ده او خپل غزل کښې ئې ورله ځاے ورکړے دے۔ سائل په دې حالاتو ژور نظر لرلے دے ځکه ئې پښتون بې وسه اولس ته د غزل د لارې عصري شعور او پوهې ثبوت ورکړو۔ د پښتون افغان بې حسي ئې اوژړله او خپل قلم

[15] Sail, Rehmat Shah, Da Weno Rang Pa Lambo Sanga Khkari, Jadon Printing Press Pekhawar, January, 1992, P 109

ئي په خپل لاس کښې د داسې وسلې په طور استعمال کړو چې د امن علامت اوګرځېدو ـ
عبدالحمېد زاهد په پښتون مجله کښې لیکي !

’’ چې کله هم په دې خاوره په خلقو ظلم شوے دے سائل ئې په جار غندنه کړې ده۔ د ګلونو په دې ښار او په هر بازار باندې چې کله بمونه خلاصېدل ، بلها پښتانۀ په دغه چاؤدنو کښې قتلېدل خومره ادیبانو او شاعرانو په دغه منظر لیدلو خو په تورو غرونو کښې مېشتۀ ګران سائل صاحب څۀ په ښکلي انداز دغه منظر ته اشاره کړې ده[16]۔‘‘

العرض رحمت شاه سائل د پښتو ادب هغه لوے نوم دے چې هغه د جنګونو زپلي پښتون اولس دپاره په د شاعرۍ د لارې اواز پورته کړے دے۔ د هغه اواز په ټوله نړۍ خور شوے دے۔ د هغه غزل د امن اواز او د جنګ نه کرکه ده۔ هغه په استعماري قوتونو غږ کوي چې پښتون اولس امن غواړي او د هغوئي په وطن دې جنګونه بند کړي۔ رحمت شاه سائل د پښتون اولس اصل شکل پېش کوي چې پښتون یو امن پسند قوم دے او دا جنګ د دوئي جنګ نه دے بلکښې د استعماري قوتونو جنګ د پښتنو په خاوره روان دے۔ دا هم یقیني دے چې د رحمت شاه سائل دې شاعرۍ پښتون اولس کښې شعور پیدا کړے دے او پښتانۀ په دې نتیجه رسېدلي دي چې دوئي د پردو په جنګ برباد شوي دي۔

[16] Zahid, Abdul Hameed, Sail Da Dardmand Zrono Awaz, Pakhtun Mujala, Daryam Daur, Swarlasam Kal, 139 Ganra, Julay, 2019, P 44

# Bibliography


- Abdul Hameed Zahid, Sail Da Dardmand Zrono Awaz, Pakhtun Mujala, Daryam Daur, Swarlasam Kal, 139 Ganra, Julay, 2019
- Ahmad Shuja Pasha, Afghanist Aik Qum Ka Almia, Sang-E- Meal Publications, Lahore, 1989
- Barq, SaadUllah Jan (Seriza), Da Lambo Pa Sori, Rehmat Shah Sail, Danish Kitabtun Pekhawar, March 2002
- Hafeez Ullah Ameen, Inqelabi Lar, Ghaznawi Khparandoya Tolana Teckhniki Sanga Jinnah Road Quetta, August 1389
- Khalil, Hamish, Pukhtana Likwal, (Daryam Tok), Amir Print and Publishers Peshawar, December 2014
- Rehmat Sail, Da Weno Rang Pa Lambo Sanga Khkari, Jadon Printing Press Pekhawar, January, 1992
- Rehmat Shah Sail, Dard Che Da Sriko Sangy Osparaly, Wahdat Printers Pekhawar, 1996
- Rehmat Shah Sail, Halat Che Oar Orawi, Danish Kitabtun Qissa Khwani Pekhawar, (Dwaim Chap) September, 2000
- Rehmat Shah Sail, Ya Zra Gory Dalta Ba Gul Na Spary, Danish Khparwandoya Tolana Pekhawar, 2013
- SaadUllah Jan Barq (Seriza), Da Lambo Pa Sori, Rehmat Shah Sail, Danish Kitabtun Pekhawar, March 2002
- Zarmalwal, Ghulam Muhammad, Afghana Tar Rusti Afghanistan, Danish Khparwandoya Tolana Pekhawar year 2014